سرچینه : دیلی نیوز « ۲۰۱۲-۹-۳».
ژباړونکي : پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل».

---

# په افغانستان کی ناتودنیکرد پرېښید وپه دریخ کی

NATO FACES UNDERPANTS OPTION IN AFGHANISTA

| |
|---|
| په افغانستان کی باند نی نظامی قوتونه جنګ بایلول ، له هغه ځایه چی طالبان تول پښتانه دی وبه نه توانیږی چی په داخلی جګړه کی دناتو دقوتونو په وتلو سره پر تولو نوروِغیر پښتون قومونو باندی لاس بری پیداکړی . |

له افغانستان څخه دروسی دقوتونو دوتلو څخه دوه کاله د مخه یعنی په «۱۹۸۷» کی میخایل ګرباچف د شوروی اتحاد د کمونیست د ګوند دمرکزی کمیټی عمومی منشی پخپلو خبرو کی چی دهغه وخت مسول لوړپوړی نظامی افسرانو ته په یوپرانسیتی خپل خبرو کی وویل : مونږ نه غواړوچی په افغانستان کی ماتی وخورواوڅه شی لاسته را نه وړو اویا مونږ نشو کولای چی دافغانستان څخه په وتلو سره خپل نیکرونه ( تر پطلانه لاندی زیرپوشی ) هلته پرېږدواوسرسوړی بیرته را ستانه شو .دا همغه ورته له منګی څخه اوبو توید نه دی کوم چی ناتودوه کاله مخکی له افغانستان څخه دوتلوپه درشل کی د ی.هغه شی سره کوم چی کم ترکمه دبریالیتوب اویاد نه و یا ړنی سو لی په نوم سره یاده شی . دناتو سرتیری د نورو زیاتو افغانانو سره مړ کیږی .
فرانسه ډیر هوښیار دی کوم چی خپل سرتیری دهمدی کال په وروستیو کی له افغانستان څخه راباسی ،کاندا له فرانسی څخه ډیر هوښیا راوپوه وه کوم چی تیر کال خپل تول سرتیری له افغانستان څخه را وویست.

دا يواځي دناتو دغړو هيوادونو بيړا او چپ (ګنګ) سرتيری دی چی دمهال ويش سره د «۲۰۱۴» کال څخه وروسته له افغانستا ن څخه راوځی.سره له هغه چي په اوس اوس وخت کی وضع اوحالات په افغانستان کی له کنتروله وتلی دی او يو خام تار او سپينسی ته ورته دی چی په يوه وړه کش سره شکيږی.د«۴۸»هيوادونو ۱/۴ برخه سرتيری يواخی د اګست په ميا شت کی خپل ژوند په افغانستا ن کی دافغانستان د دولت د سرتيرو په ويشتلو اوګذار سره دلاسه ورکړل .

د يا دونی ډير مهم خبره دادی چی دغه روان قتلونه د « زرغون – آبی » قتلونو په اصطلاح سره نومول شوی اود پنتاګون د «۲۰۱۱» کال ديو تحليلی راپور له مخی کوم چی نوموړی راپور دبلومن برګ د راپورچيانو له خوا چمتو شوی وه داسی څرګندونه پکی شوی چی دافغانستان په اردو کی کم ترکمه يوولس په سلو (٪۱۱) کی طالبان يا ننوتلی دی اويا داچي په اردو کی دهغه کرکی اوبد بينی له مخی چی د ايتلاف دقوتونو سره په دی وختونو کی دافغانستان دسرتيرو له خوا را پيدا شوی دی نفوذ اويالاس بری تر لاسه کړی دی اودا داسی ښيي چی دناتو هغه ستراتيژيکی هلی ځلی کوم چي غوښتل د افغانستا ن اردو ته نظا می تعلميا ت ورکړی چی هغوی پخپلو پښو ودريږی هغه څه وه چی په اوبوکی لاهوشو اوناتو ونکړل شو چی خپل مخکينی وړاندی کړل شوی ستراتيژی او هدف ته ورسيږی.

پروسږکال دا مريکی د متحده ايالاتو د اردو يوه ډ له روانشنا سا نو افغانستان ته راغلل ا و دافغانستان په اردوکی دبا ند نی قوتونوسره د کرکی د ماهيت د پيژند لوپه مخه د يولړ لوړ پوړو امريکا يی اوافغانی چارواکو سره په مرکو اومصاحبو پيل وکړل چی د نوموړی بد بينی اود کرکی اصلی علتونه را وخيږی ، هغوی دخپل ځيړنی او د تحليل په پای کی دا سی نتيجه تر لاسه کړل چی دافغانستان اود امريکا يی سرتيرو تر مينځ ډير بی باوری اوډير فرهنګی تفاوتونه او اختلافا ت

موجود دی اوهغه داچی د افغانستان دسر تیرو په وړاندی اویا د هغو په نظر امریکایان یو ډول قهرجن ، وچ مغز ، پوک ، پخپل سر ، متکبر ، پرخپل ځان مین ، کافر ، بی پا س اونار وا خلک دی چی خپل ځانونه د خپل مد رن او مخکی تللی سلاح او نظامی تجهیزاتو تر شا خوندی کړی دی .

او دهمدی تحقیق اوڅیړنی د مخی هغه څه چی امریکایی سرتیرو دافغانستان د سرتیرو په اړه خپل نظر وړاندی کړی داسی دي : « افغانی سرتیری یوه ډله ضیعف النفس ،بی کفایت ، بی پاس غل ، قلدر، لټ ، جانی اوسړی وژونکی دی ». ددی تحلیل او تحقیق څخه هغه څه چی ترلاسه شو دادی چی دامریکایی اود افغانی سرتیرو تر مینځ دباور اوداعتما دمساله بشپړه له مینخه تللی اوهغوی یودبل سره مرسته اوګډ همکاری نه کوی اودهغه پایلی هرومرو ناکامی اونه بریالیتوب دی .

بیاهم دافغانی سرتیرو لړ لید اوکتنه ډ یر مثبت اود پاملرنی وړ مطلب ومنل شوسره دهغه ټولو مطالبو سره کوم چی د هغوی په پټه دامریکایی سرتیرو له خوا وویل شو ، همدارنګه دلته یوه بله داهمیت وړ مطلب د افغانستان دعامه خلکو لړلید اونظریات دی چی باید معلوم شی : نودهمدی دلیل په نظرکی نیولوسره دهغه احصایه ګری او ارقامو څخه دلته یادونه کوو کوم چی په کال« ۲۰۱۰ » کی دافغانستان داټولنیز اقتصادی مرکزی نهاد له خوا چی د خلکو څخه دیو لړ پوښتنو له مخی ترلاسه کړی وه داسی رامعلومه شو: عامه خلک شپیته په سلو کی (٪۶۰) غواړی چی د یو کال په موده کی خارجی قوتونه باید له افغانستان څخه خارج شی اوبیرته خپل هیوادونو ته لاړ شی ، اما پا تی څلویښت په سلو (٪۴۰) کی خلک وایی چی د خارجی قوتونو په وتلو سره بیا په افغانستان کی جګړه لا پسی شد ت مومی او زیا ت اړی دوړی به پیدا شی نو لازم بریښی چی خارجی قوتونه په افغانستان کی د حالاتو د ښه کیدو پوری پاتی شی.

اوس اوس یواځی لس په سلو کی (۱۰٪)خلکو دا غوښتنه لری چی طالبانو دی بیرته په واک راشی کوم چی د طالبانو له خوا هیڅ د باور مطلب نه ښکاریده طالبانو په همغه وخت کی (۲۰۰۱-۱۹۹۰) کوم چی په واک کی هم وه ونشو کړلی چی په غیر پښتون لګکی قومونوباندی کوم چی ډیری دهغو دافغا نستان په شما ل کی هستوګنه لری پوره واک ولری دوی هغه خلک دی چی په دی (۶۰٪) عامه خلکو کی شمیرل کیږی .

دهغه یو مشهور افغانی طالب قوماندان چی په «مولوی » سره یادیږی د هغه مرکه د میخایل سمپل دملګروملتونو دسازمان داستاذی سره چی په کابل کی تیرمیاشتی ترسره شو اوپه رسنیو کی هم خپور شو داسی څرګندونه تر لاسه شول : دطالبانو دزمامداری په موده کی « د قدرت بیلانس او تعادل دافغان د مخالفو اړخونو ترمینځ بلکل ښکاره او بربنډ وه اوهغه داچی ټولو ته جوته شوچی طالبانو سره یو څه زور اوقدرت موجود وه کوم چی دهیواد واک یی تر لاسه کړل یعنی په جګړه کی بری شول ».

په افغانستان کی باند نی نظامی قوتونه جنګ بایلول له هغه ځایه چی طالبانوډیری ټول پښتانه دی وبه نشی کړلی چی په داخلی جګړه کی دناتو دقوتونو په وتلو سره په نورو ټولو لګکی غیر پښتون قومونو باندی تسلط پیداکړی کوم چی د روسانو له وتلو څخه په کال ( ۱۹۸۷) کی ونشو کړلی چی لاس بری پیدا کړی ، مولوی دخپل خبرو په دوام کی څرګند کړ چی« دکابل نیول زمونږ له خوا یو غیر منتظره هیله او امید وه ».

دهغه خبره ممکن چی ریښتیا ونه اوسی اوبکل غلط وی ، هغه داسی فرضی ته ا شاره وکړل اوویل کله چی خارجیانو(یعنی دشوروی اتحاد نظامی قطعاتو ) دافغانستان له اردو څخه ووتل او خپل هیواد ته بیرته ستون شو او افغانی اردو دړی وړی شو وروسته له هغه کوم چی اردو

له سره جوړ شو نو داسی هلی ځلی ترسره شو چی په اردو کی ډیری سربازان دغیر پښتون قومونو څخه شامل شو یعنی په اردو کی تاجکانو، ازبکانو اوهزاره ملیشیا و ځای په ځای شول . لاکن هغه ملیشایی شبهه نظامی ګروپونه تر اوږدی مودی پوری په اردو کی پاتی نشول هغوی اودهغوی اکثر قوماندانانو په فساد ، عیاشی اونورو ناوړوکارونو باندی مشغول شول اودخارجیانو په چوپړ کی ور ننوتل نو دغه امکانات داسی حالات رامینځه ته کړل چی طالبانو په ډیر چټکتیا سره په اردو کی نفوذ وکړی او دافغانستان ټول واک تر لاسه کړی .

طالبانو پخپله د خارجی اشغالګرو قوتونو سره په مخالفت کی جګړی ته دوام ورکوی ملګر هغوی وبه نشی کړلی چي په داخلی جګړه کی کوم چی دهغه وړاندی وینه کیږی پوره بری تر لاسه کړی ، یواځنی هغه لاره چی ممکن پاتی شی اوخارجیانو په افغانستان کی خپل نفوذ ته وده ورکړی هغه دادی چی خپل چوپړ د لاس ناځکی حامد کرزی دافغانستان موجوده جمهور ریس ته موقتی زور ورکړی چی بیرته هغه ایتنیکی شبهه نظامیان له سره بیا جوړ کړی . مګر له حالاتو څخه معلومیږی چی خارجی قوتونه دی مسالی ته زړه نه ښه کوی نو په دی بنیاد سره هغوی لا تر اوسه کوم بل التر ناتیف نه دی تر لاسه کړی چی دهغوی حضور ددوه راتلونکی کلنوپوری تضمین کړی اودبلی خوا څخه دافغانستان دعامه خلکو مخالفت هم دورځی په تیریدو سره دخارجیانو په مقابل کی زیاتیږی او په ډیر سرعت سره خیل لوړی څوکی ته نژدی کیږی اوله اوضاعو حخه داسی معلومیږی چی دناتو قوتونو به له افغانستان څخه بی له نیکره ووځی یا دعوامو په اصطلاح سره بی نیکره او سرسوړی به افغانستان خوشی کړی .

پای -----------------